آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۶/۲۵

# مبارک اختر مو؟؟؟

## (هلمند، لښکرگاه او اختر)

زما د ذهن انګړ

له جنازو نه ډک دی

ويني رواني ديوالونه سره دي

مځکه هم سره او آسمانونه سره دي

آ دي زلميان په هديره کي جنازو ته ولاړ

خپلي نيولي روژې

د خپلو اوښکو د قطرو

په تروشوبي ماتوي

ميندې ګريوان څيري

ويښته شکوي

او چغې وهي

پلرونه غلي، غلي ګوري

او هيڅ هم نه وايي

خو په غوږو کي يې ښکالو د لوی وير

لکه لړم ځو ځل نيشونه وهي

د ژوندون ځلي يې ړنګ شوي

او ګردو کي يې شيبې تيروي

بيا کوم څوک ور و وهي

او ور ناري کړي:

مبارک اختر مو؟؟؟

۲۰۱۷/۰۶/۲۴
هيدرسليف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ